# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com    afgazad@gmail.com

| مسایل ایدولوژیک | Ideological |
|---|---|



درویش وردک

۲۰ اپریل ۲۰۱۶

## نه ویشتم مجلس (بډایانوته ددوی دشتمنی لپاره سرنه ټیتول)

شیخ عبدالقادر(رضی تعالی عنه) د ۵۴۵هجری قمری کال دجمادی الاخرېه یوولسمه ورځ په مدرسه کی داسی وفرمایل:

پیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (مَن تَرَعْرَعَ لِغَنِّیِ طَلَباً لِما فِی یَدَیهِ ذَّهَبَ ثُلُثا دِینِهِ)-« هرچاچی یوه شتمن ته دده دمال په طمع سرټیټ کړ، دخپل دین دوه ثلثه یی له لاسه ورکړل». ای منافقینو واوری دغه وینا، څرنګه ځوک د اغنیاوپروړاندی چی شتمنی لری په پښو ولاړیږی اودرناوی یی کوی، انتظارلری چی لمونځ، روژه اوحج به یی قبول شی؟ ای پرخدای باندی مشرکینو، تاسو دخدای اودغی درسول له مقامه خبرنه یاست، تسلیم شی اوتوبه وباسی اوپه توبه کی اخلاص ښکاره کړی، ترڅو مو ایمان له دی بیماری ځخه وژغورل شی، اویقین اوتوحید مو رشد وکړی، ترهغی چی ښاخونه یی ترعرشه پوری ورسیږی.

(ای دخدای بنده) هرکله که دخپل ایمان دیرورش اوروزنی لپاره زیاروایست اودایمان ونه دی لویه شوه، خدای عزّوجلّ به دی له مخلوقه بی نیازه کړی. اوپه کسب اوکارکی به بی نیازه اودنفس غنا به درته عنایت کړی، اودخپل قرب په یاد به دی توانمندکړی. نوربه هغوکسانوته چی له دنیا سره مبالات لری ونه ګوری، اودیداربه یی درته ناخوشاینده وی.

ای چی دعلم اودانش ددرلودلو مدعی یی، ولی دزرو دخاوندانوپروړاندی ځان خواراوذلیل کوی، اوله دوی ځخه دعطا اوبخشش طمع لری؟! لوی خدای ته دهماغه علم پواسطه ګمراه کړی یی، اودهغی برکت تباه شوی، مغزیی له منځه تللی اویوازی پوستکی پاته دی.

ای چی دحق دعبادت مدعی یی، اوزړه دی دمخلوق بنده دی، اوبیم اوامید دی له دوی ځخه دی، یوه شه چی دعبادت ظاهردی دخدای لپاره اوباطن یی دخلکولپاره دی.ستا ټول غم اوهم دیناراودرهم اوشتمنی په ټولولو کی دی چی دخلکو سره دی. اوځان دنورو دستاینی نیازمند بولی، له بدګوئی ځخه یی ویره لری، اوله دی ځخه چی له شتومونع کړی ویریږی، اودووی عطاء ته دی سترګی نیولی. په هیله اونیرنګ یی ځان درګاه ته رسوی اودتملق په ژبه ورسره خبری کوی!!

وای پرتا! ته مشرک یی، منافق یی، زندیق یی، خپله ناروا متاع چاته عرضه کوی؟ هغه چاته چی « یَعْلَمُ خَآئِنَةَّ الْاَعْیُنِ وَمَا تُخْفِی الصُّدُرِ »؟ وای پرتا! په لمانځه دریږی اوپه خوله الله اکبروایی ولی په زړه هغه تکذیبوی، خلک ستا په زړه

کی له خدایه لوی دی، توبه وکړه، خدای ته راوګرځه، اوهیڅ عمل پرته دده له رضا مه ترسره کوه، یوازی دخدای رضا په نظرکی منظوره لره، نه دنیا اودهغی اهل، دهغوکسانو له ډلی اوسه چی لقاء الله یی یوازینی هیله وی. دالله دذات دبندګی حق پرځای کړه، اودنورو دقدْح اومدح په بندګی مه اوسه، اومنع اوعطاء ته یی پاملرنه مه کوه.

وای پرتا! روزی دی نه ډیریږی اونه کمیږی، هرڅه چی له نیکو اوبدودرته مقررشوی، درته وبه رسیږی. په هغه څه مه بوخت کیږه چل دخدای له یاده دی وباسی. دحرص اوآرزو کچه دی راټیټه کړه، مرګ په خپلو سترګو کی مجسم کړه، اودشرع داوامرو اونواهیو په ترسره کولو بوخت شه،ترڅو بریالی شی.

(ای قومه) آیاستاسوسره دشریعت څخه دمتابعت کوم څه پاته دی، ورځ په ورځ دخدای دعذاب موجبات په دنیا کی ځانته برابروی، ترهغی چی دقیامت په ورځ یی هم عذاب له هرلوری پرتاسو نازل کیږی، دمرګ اوقبرته دکښته کیدو وخت مو په سترګوکی ولری، دهغی له تیاروالتنګیو وویریږی اودعذاب په هکله یی سوچ وکړی. هغه ورځ په خاطرکی راولی چی له قبروبه راپاڅی اودحساب اوکتاب لپاره به دحق پروړاندی ودرول شی، پوه شی چی په هغه ورځ به ستاسو ټولواعمالواوکړوته، که لږوی یاډیر، حتی که ذره هم وی، رسیدګی وشی، اوهرڅوک به دخپلو اعمالو په مقتضا سره اجرترلاسه کړی.

ولی ته ای چی دغفلت په خوب ویده یی، دهغی بی روحه بت په څیریی، یا هغه وچ شوی پوستکی،پرته له توان اونیرو، چی پرته له اوره اوسوځیدلو دبل څه په درد نه خوری. ستاعبادت پرته له اخلاصه اوپرته له روحه دی، نوځکه هم ته اوهم ستا عبادت داور وړیاست. هرکله که په عبادت کی اخلاص شتون ونلری، عبادت هماغه زحمت دی، بی ګټی اوبی پایلی زحمت. ته د« عَامِلَةٌ ناصِبَةٌ » یوښکاره مصداق یی. داسی چی په دنیا کی درنځ ایستلی اوعبادت دی ترسره کړی، ولی پرته له اخلاصه، پس په دنیا کی دی دهغی رنځ اوزحمت منلی، ولی په آخرت کی یی جزا اورده. دکارچاره په دی کی ده چی ژرترژره توبه وکړی اوخدای ته راوګرځی، اومخکی له دی چی مرګ ستا لمن ونیسی،دحق تعالی داقدس ذات پروړاندی خپل عذراوتقصیروړاندی کړی.

خدای ته راوګرځه، داسی راګرځیدنه چی ستا په اسلام کی په تجدید نظر، حسن توبه، بشپړ اخلاص، اومخکی دمرګ درارسیدونه، اومخکی چی ټولی دروازی دی پرمخ وتړل شی، اودتوبی باب ته دننوتو ځواک درڅخه سلب شی، پیل کړه. په زړه اوروح سره دخدای خواته وځغله، ترڅوچی دفضل اورحمت دروازی دی پرمخ ونه تړل شی، اوتایوازی پری نږدی، اوپه خپل مال اوثروت دی متوکل نکړی. پوه شه چی که په دی حال کی وی، هرهغه څه چی په لاس لری، درته نامبارک اوناوړه دی.

وای پرتا! له خدای عزّوجلّ څخه شرم نه کوی، دیناراودرهم دی خپل خدایان ګرځولی، اوپه ټوله سره له خدایه بیخبره یی. ډیرژربه ددی اعمالو پایلی وګوری.

وای پرتا! دخپل کاراوکسب ځای دشرعی په امر خپل کوروالِه اوبچیانوته ځانګړی کړه، ولی زړه دی باید پرخدای متوکل وی. په کاراوفعالیت سره دخپل ځان اوعیال رزق تأمین کړه، ولی هغه څه چی ترلاسه کوی یی له خدایه وګڼه، نه دکاراوکسب له ځایه، ځکه ستااونورو مخلوقاتوروزی دحق دقدرت په لاسونوکی ده. دخدای فضل اوعنایت ته په زړه کی ځای ورکړه، اوپه دی وسیله له ټولی دنیا څخه استغناء حاصل کړه. ولی ته یی چی ټول عمردی په شرک کی تیرکړی دی، اوپه هیڅ وجه له دنیا اودهغی له جمع کولو نه ستړی کیږی، څرنګه دی مرتبی ته رسیدای شی؟دزړه دریچه دی له خدایه پرته دنوروپرمخ وتړله اوله مخلوقه دی هیلی اوامیدونه قطع کړه، دخدای ذکراویاد پکی ځای کړه، اودزړه اوځان له تل نه توبه وکاږه، اونیکوکړوته مخه کړه، له خپل سوء ادب اوګستاخی څخه نادمه اوپښیمانه شه، اوپرهغه غفلت او نیسان چی دچارشوی وی، دزړه په سترګو پری وژاړه. درویشان له ځان سره برابروګنه، مال اوشته

له فقیرانو اونیازمندانو مه دریغوه. پوه شه چی ژربه له ماله اومکنت سره وداع وکړی. مومن چی په آخرت یقینی ایمان ولری، په دنیا اوقیامت کی بخیل اوممسک نه وی.

له حضرت عیسی علیه السّلام څخه روایت کوی چی ابلیس ته یی وفرمایل: دخلکوله ډلی درته څوک ډیر گران دی؟ وویل: بخیل مومن! بیایی تری وپوښتل له چاسره ډیره دښمنی لری؟ وویل : بښونکی فاسق سره، بیا یی تری وپوښتل چی علت یی راته ووایه، وویل:ځکه چی هیله لرم چی بخیل مومن دبخل په وجه دگناه اومعصیت مرتکب شی. ولی ویریږم چی بښونکی فاسق ، دسخاوت په وجه خدای دهغی ټولی گناوی وبښی.

داړتیاپه اندازه په دنیا بوخت اوسه، شریعت کاراوکسب ځکه مباح گڼلی چی تری دطاعاتواوعباداتودترسره کولولپاره ، کاروخلی، ولی ته برعکس، له کاراوکسبه دمعصیت لپاره کاراخلی. لمونځ ترک کوی، دخیرکارونه نه ترسره کوی،شرعی زکات نه ورکوی، پس دمعصیت په ډنډ کی پروت یی، اوکاراوکسب دی هم غلااوراهزنی ده په حکم کی. ډیرژربه مرگ درپسی راشی، وپوه شه چی دمرگ پرمحال کافراومنافق غمگین اوپریشانه او مومن ښاداوخوشحاله دی. پیغمبراکرم (صلی الله علیه وسلم) فرمایی: (اِذامَاتَ الْمُؤمِنُ یَتَمَنّی اَنَّهُ ماکانَ فِی الدُّنیا وَلاسَاعَةً لِما یَری مِنْ کَرامَةَ اللهِ عَزَوجلَّ لَهُ)-«چیری دی هغه کس چی پرتوبه یی پایداره وی؟ چیری دی هغه کس چی له خپله خدایه شرم وکړی، اوپه ټولو احوالاتوکی دده په یادوی؟ چیری دی هغه کس چی په ظاهراوباطن پاکدامنه اوعفیف وی؟ چیری دی هغه چی ظاهراً اوباطناً له حراموسترگی پټی کړی؟( ان العینین لیزنیان وزنا هماالنظر الی المحرمات)-« هماغه سترگی زناکوی اودانظریی پرښځوحرام دی، ځکه ډیری دی چی دسترگوپه کتوسره ښځو اوهلکانوته په زنا ککړشوی، آیا دخدای قول دی ندی اوریدلی چی فرمایلی یی دی:( قُلْ لِلْمومِنِینِ یَغُضُّوا مِن اَبصارِهِم)-«مومنینو ته ووایه چی سترگی له نامحرموڅخه وپوښی. سوره نورآیه ۳۰».

ای درویشه ددنیا په فقرصبوره اوسه، ځکه ددنیا فقرژرپای ته رسیږی، پیغمبراکرم (صلی الله علیه وسلم) حضرت اُم المومنین عائشه(دخدای رحمت وی پری) ته وفرمایل: (یَاعَائِشَةُ تَجَرَّعَی مِرآةَ الدُّنیا لِنَعِیمِ الْآخِرَةِ)-« ای عائشی ددنیا ترخه دآخرت دخوږو په تمه پرما وڅکه».

ته نه پوهیږی چی دقوم ترمنځ څه عنوان لری، آیا شقی یی اوکه سعید؟ مسلماً دا امردخدای عزّوجلّ په اختیارکی دی. ولی ته له زړه څخه خوف مه لیری کوه، چی مبادا ددی موجب شی چی دشرعی له حدودو پښه واړوی. زیاروباسه پرهغه څه چی مأموریی لاس پوری کړی، ځکه عاقبت اندیشی دغیبه علومو څخه دی، اوڅوک پری اطلاع نلری. دراستانوقوم ددنیا جامی څیرلی، اودمولا پروړاندی په خدمت بوخت دی، ددنیا زاد ضرورتاً ترلاسه کوی، اوپه پاک نیت دزړه له کومی په عبادت لگیادی، دنفس دشیطان له مکراوکید څخه په امن کی دی، دعفت خلاف دهرناوړه عمل څخه لیری دی، دخدای اوامر اجابت کوی، درسول الله صلی الله علیه وسلم له سنتوڅخه متابعت کوی، ټول هم اوغم یی دحق داوامروپیروی اودرسول صلی الله علیه وسلم دسنتو اتباع ده، دتوان اوقدرت پروخت ددټولو دنیوی مسایلوڅخه گوښه گیری کوی.

لویه خدایه مونږددوی له ډلی وگرځوی اوله برکاتو څخه یی مونږ بهرمندوفرمایی.آمین!

(ای دخدای بنده) ترهغی چی ددنیا حب اودوستی دی په زړه کی ځای ولری، مه گڼه چی دصلحاوله احواله به کوم شی ترسترگوکړی. ترهغی دی چی لاس نورو ته اوږده وی اوپردوی متوکل وی، دباطن سترگی به دی ونه غړیږی. ترهغی چی له دنیا اوخلق څخه یی علاقه غوڅه نکړی، کوم ځای ته نه رسیږی. کوښا اوسه، مجاهد اوسه، ترڅو ته هم هغه څه وگوری چی نوریی وینی. هرکله که هغه څه چی پری مشغول یی، اودخپل ځان لپاره دی غوره کړی، که دی دهغی ترک کولوته لاس واچاوه، داسی چی تصوریی هم ونکړی پرحساب به دی راتویی شی. هرکله که دی په

حق اعتمادوکړ، اوپه ظاهر اوباطن کی تری وشرمیدلی، دداسی ځایه به درته ګټه ورسیږی چی تصوریی هم نشی کولای، ته ددنیا مینه پریږده ،خدای به یی دروبښی. له ځانه زاهدشه، خدای به دی مقرب کړی. لومړی ترک دنیا ستاځخه بیا دپاداش اخیستل له خدایه. دزړه لومړنی دنده ددنیا دشهواتو ترک کول دی، اوپه پای کی له هغی له پایلو څخه ګټه اخیستل، اودا استفاده – اول متقینو ته ممکنه ده بیا ابدالو ته چی دحق طاعت ته وصل شوی دی.

ای ریاکاره منافقه دهغوی(دراستانودقوم) مزاحم مه ګرځه، ته څه په لاس کی لری چی غواړی ددوی مقامات درک کړی؟ دوی خرق عادات کوی اوته دعاداتو په بند کی یی. دوی ته خرق عادات ممکن دی اوتاته ناممکن. دغفلت له خوبه راپاڅه، دشکم بارګی نه خودداری وکړه، اوله دی کاذبی هوساینی څخه چی ځانته دی جوړه کړی لیری شه، دخدای ویره په زړه کی وساته اودده درضا لپاره زیاروباسه. دخدای مردان په هغه وخت چی ته خوراک کوی ، روژه دی، کله چی هوسایی، دوی له خدایه په ویره کی وی، اوکله چی ته بخل کوی ، دوی په بذل اوبخشش لاس پوری کوی.

ددوی اعمال دخدای لپاره دی اوستا اعمال دخدای دمخلوق، هغوی خدای په نظرکی لری اوتاسو له خدایه پرته، دوی ځانونه خدای ته تسلیم کړی اوته له خدای سره په جنګ اوستیزکی یی، دوی ژبه له شکوی اوشکایت څخه تړلی، ولی ته له خدایه خلکو ته شکایت کوی، اودوی پرکړاونواوتلخیوصبراوبردباری لری ،ترڅو یی په پای کی له حلاوت اوخوږوڅخه کامیابه شی، دقضا اوقدرتوری یی بدن توټی توټی کړی، ولی دوی هغی ته ارزښت نه ورکوی اودرنځ احساس نه کوی، خلک هم ددوی دوجود له برکته دهوساینی اوآرامی احساس کوی، ځکه چی هیڅاته یی هم آزار نه رسیږی.

ویل شوی چی دنیکو کارانواوابرارو آزار میږی ته هم نه رسیږی. په خالصانه طاعاتواوعباداتو، دحق سره رابطه لری اوپه مهراومحبت له خلکوسره، اوله زن اوفرزند سره په صفا اوصمیمیت سره چلند کوی. ددواړو جهانونو نعمتونه یی په نصیب دی، په دنیا کی دحق دقرب نعمت، اوپه آخرت کی دجنت اولقاء الله عزّوجلّ نعمت، دوی ته نیږدی شه، ددوی وینا دزړه په غوږوو واوره، اوددوی په لباس ملبس شه.

له خپلو ګناهونو توبه وکاږه، اودسیئاتوپه ارتکاب له وقاحت اوجسارت څخه لیری اوسه. وای پرتا! له عزّوجلّ خدای څخه شرم اوحیا ښایسته ده تر بندګانو، ځکه هغه دی چی دکائناتو خالق دی. ولی ته له ازلی قدیم څخه شرم نه کوی، اوله حادثوخلکو څخه حیاء کوی.!

خدای کریم دی اوپرته له ده لئیم، هغه غنی اوشتمن دی، اوپرته له فقیراومحتاج، دده عادت عطا اوبخشش دی، اودغیرو روش بخل. راوګرځه اوخپلی اړتیاویی دده پیشګاه ته وړاندی کړه،اوترسره کیدل یی له ده وغواړه. دی له هرچا په عطا اوبخشش سزاوارتره دی. باتقوی اوسه اودشرعی دحدودو رعایت کوه، هرکله که دپه تقوی مداومت وکړ خدای ته به نیږدی شی، اوله خلکو اومصنوع څخه به لیری شی. په دنیا ډیره اعتناء مکوه، ځکه هرهغه څه چی دقسمت اوبهره وی، هغه به پرته له کم وکاسته ستا نصیب شه.

که دی له خدایه پرته له زړه وایستل، دهغوی تیرګی له منځه نه ځی. که دزړه پاک اوصاف نه وی ، خدای ته نشی نیږدی کیدای، په هغه صورت کی به دهغه حیوان په شان وی چی عقل ونلری. له دنیا دوستی لاس په سرشه، اودهغوهوښیارانوپه خدمت کی اوسه چی دخدای لوری ته دی هدایت کړی، له دوی څخه علم وعقل اوخودشناسی اوخداشناسی زده کړه.

وای پرتا! همدارنګه چی ستاروزی پرته له تابل کس نشی خوړی، داسی هم ستا ځای په جنت یا دوزخ کی هم بل څوک نشی نیولای. په ریښتیا سره غفلت اودنفس هواپرتا غالبیږی، ټول هم اوغم دی خوړل اوڅکل اوواده کول

اوخوب اوراحت دی. اوکوشش خپلومادی موخوته په رسیدو. همداسی چی کله دی له حلالو اویاحرامو چی درته توپیرنلری وخوړل اوداشباع حد ته ورسیدی، کفاراوومنافقینو ته متوجه کیږی، اوپه زړه کی دی ددین هیڅ نښه هم نه پاتیږی.

ای مسکینه پرځان وژاړه، نه پرنورو، که دی زوی مړشی نو قیامت به جوړ کړی، اما خپل دین دی هلاک کړی ولی یوڅاڅکی اوښکه هم نه تویوی. پرتاساتونکی فرشتی ستا زیان اوخسران وینی، ته عقل اوشعورنلری، که نه ددین په لاس ته وتلوبه دی ژړلی وای. تا سرمایه اوسود دواړه له لاسه ورکړی، عقل اوحیاء سرمایه، اونیک اعمال دهغوی سود دی. هغه علم چی عمل پری ونشی اوهغه عقل چی تری ګټه پورته نشی، اوهغه ژوند چی مفید نوی، دداسی خونی په شان ده چی اوسیدونکی پکی نه وی، یاداسی پټه خزانه ده چی څوک تری ګټه پورته نکړای شی، یاداسی خواړه چی داستفادی وړ ونه ګرځی.

هرکله که ته خپله پوه نشی چی په کوم حال کی یی، پوه شه چی زه پوهیږم. دشرعی هنداره چی دظاهری حکم صادرونکی ده، زما په لاسونو کی ده، اودمعرفت الله هنداره چی باطن روښانه کوی، په لاس کی لرم.

دغفلت به خوبه رابیدارشه، اوڅیره دی دهوښیاری په اوبو پریوله، هغه وخت بیا وګوره چی کافریی که مسلمان؟ مومن یی که منافق؟ موحد یی که مشرک؟ ریاکاریی که مخلص؟ موافق یی که مخالف؟ راضی یی که ناراضی؟ متعال خدای له رضایت اونه رضایت څخه باک نلری، داعمالو سود اوزیان یوازی تاته درګرځی.ټول کائنات دسبحان کریم ،حلیم خدای ترفضل اولطف لاندی دی. که دعنایت په سترګو مونږته ونه ګوری نو هلاک به شو. که دمونږله اعمالوسره بالمثل مقابله وکړی، عموما به هلاک شو.

(ای دخدای بنده) په دی توګه پرخدای پاک منت ایږدی چی دریاءنفاق اوسهوی سره یی عبادت کوی؟ په همدی فساد سره دصلحاو مزاحم ګرځی اودکرامت انتظارهم لری؟ اوددوی دمعرفت مدعی هم یی. ای فراری، ای ددین اودامت دمخلصینو اوموحدینو له جادی بهرشویه، وای پرتا! پرځان وژاړه ترڅو پرتا وژاړی، پرخپل مصیبت کښینه اودعزاداری جامی په تن کړه، ترڅو نورهم ستاسره په دی عزاداری کی برخه واخلی. ته دحق له رحمته محجوب یی اوته خبرنه لری. یوه دصالحینوڅخه (دخدای رحمت دی پرده وی) ویلی: وای دهغوخلکو پرحال چی دخدای له رحمته محجوب دی اودوی خبرنلری.

وای پرتا! دازړه څه دی؟ تعقل اوتفکرپه څه موردکی دی؟ کوم کس ته شکایت وړی؟ له چا څخه فریاد رسی غواړی؟ ترڅو به په خوب کی یی؟ کله که په رنځ ککړشوی پرچا اطمینان لری؟ راته ووایه، زه ستا اودنورو له دروغو اونفاق څخه خبریم. ته دصدق اوایمان اوتوحید خاوند نه یی، دلرګی دزروپه شان یی چی یوازی دسولو لپاره پکاریږی.

(ای قومه) دنیا تیریږی، اوعمرسپری کیږی، اوآخرت نیږدی کیږی، ستاسو فعالیت یوازی دنیا اودهغی زخارف دی، نه آخرت. تاسو دخدای دنعمتونو دښمنان یاست، هرکله که یوشردرته پیښ شی نوسمدلاسه یی اظهاروی،اوکه په خیرنایل شوی نو پټوی یی. تاسو الهی نعم کتمان کوی اوشکرانه یی نه اداء کوی، نوځکه متعال خدای هم هغه له تاسو-ناسپاسانو-څخه بیرته اخلی. پیغمبراکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی: (**إِذا أَنْعَمَ اللهُ عَزَّوجَلَّ عَلى عَبدِهِ نِعْمَةً أَحَبَّ أَنْ يَراى عَلَيْهِ**)-« هرکله چی خدای یونعمت یوه بنده ته اعطاء کړی، خوښیږی یی چی هغه ورسره وګوری».

دراستانو قوم یوازی یوه موخه لری، اوهغه دټول اشیاو له زړه څخه ایستل، اوپرځای یی یو واحد محبت ځای پرځای کول دی. خپل عبادت یی له ریا پاک کړی، دشهرت اوآوازی لپاره عبادت نه کوی. ځانونه عبدالخالق بولی نه عبدریاء اونفاق، نه عبدمخلوق اونه عبد حظوظ نفسانی. البته داډول عبادت هغه وخت ترلاسه کیږی چی الهی توفیق ورسره مل وی.

ځینی خلک دنیا پرست دی، دهغی سره مینه کوی، اوله زواله یی په ډارکی دی. دوی دخلکو بندګاندی، اوپرنورو متوکل، اوخوف اورجاء یی له خلکو څخه ده، دوی دبهشت پرستش هم کوی، اودهغی نعمتونو ته یی زړه تړلی، ولی خدای ته امید نلری. دوی په واقعیت کی په دی کړو سره ددوزخ داورغوښتونکی دی، اوله هغی څخه په ویره کی هم دی، ولی داوراوجهنم له ښتن څخه ویره نکوی.

خلق څه شی دی؟ جنت کوم دی؟ ددوزخ اورڅه اعتبارلری؟ هرڅه چی پرته دخدای دذات څخه دی دپاملرنی وړندی. عزّوجلّ خدای خپله فرمایی: (**وَمَا اُمِرُوا اِلَّا لِيَعْبُدُوا اللهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ حُنَفَاءَ**)، هغوی چی په حق سره خدای پیژندلی ، پرته له ده دبل چا بندګی نه کوی، پرستش اوعبادت خاص دخدای دذات لپاره بولی، داوامرو ترسره کول یی، دمحبت درلودل یی دخپل همت وجه ګرځوی، پرته له ده ترک کوی اوفقط دده سره پیوستون کوی. ولی تاسو، تاسوځانونه وځندی، تاسو ظاهریاست اود-راستانو-قوم دایمان اوشمایلوپه لحاظ دانبیاو دنباله روان دی، ددوی دخوړو له پاتی شونوڅخه ګټه پورته کوی، یعنی ددوی په علومو عمل کوی. دانبیاو وراثت ورته ثابت شوی دی. پیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایی: (**اَلْعُلَمَاءُ وَرَثَةُ الْاَنْبِياءِ**) -«علما دانبیاو وارثان دی» هرکله که یی په خپل علم عمل وکړ، په حقیقت سره دانبیاو وارثان دی.

وای پرتا! علم په یوازیتوب سره ګټه ورندی، همدارنګه چی پرته له شاهده دعوی هم نه ثابتیږی. پرته له عمله علم بی ګټی دی. پیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (**يَهتِفُ الْعِلْمُ بِالْعَمَلِ فَاِنْ اَجابَهُ وَاِلاَّ اِرْتَحِلَ**)-«علم دعمل په ترسره کولو امرکوی، که مثبت ځواب واخلی پاتیږی اوکه نه، کوچ کوی».

هرکله که موزړه له ککړتیا پاک کړ، جوارح اوغړی هم پاکیږی، ځکه زړه دبدن سلطان دی. هرکله که سلطان پاک و رعیت به هم پاک وی. علم زده کړی، اوپه پایله کی کولای شی تری غوړی وباسی. پس که پوستکی دمغزدرلودونکی نه وی، بی ګټی دی، اوکه مغزهم غوړونه لری، په هغی هیڅ کارنه ترسره کیږی. پس علم پوست، وعمل مغز، او اخلاص دهغی غوړدی.دعمله پرته دعلم ساتنه اوتدریس څه ګټه لری؟

ای عالمه که ددنیا اوآخرت ګټه غواړی نو په خپل علم عمل وکړه، اوبیا یی نوروته ورزده کړه. اوای شتمنه اودمکنت ښتنه، که ددنیا اوآخرت سودغواړی، فقیران اودرویشان له ځان سره سم وبوله. له پیغمبراکرم (صلی الله علیه وسلم ) څخه منقول دی: (**اَلنَّاسُ عَيَالُ اللهِ وَاَحَبُّ النَّاسِ اِلَى اللهِ عَزَّوَجَلَّ اَنْفَعُهُم لِعَيالِهِ»-()**-«خلک دخدای روزی خواره دی، محبوب ترین کس دخدای پرنزد هغه دی چی په خپلو ترلاس لاندی خلکو مهربانه اوګټوروی».

پاک اوسپیځلی دی هغه خدای چی یویی بل ته اړکړی اوپه دی کارکی سرشتون لری.

ای شتمنه له مانه وتښته، هغه څه چی زه یی له تاباید واخلم ،هغه دی ستاوی، ډیرژربه دخدای رحمت اوفضل دمادحال شامل شی، اوله تاڅخه به می بی نیازه کړی، اوحتی تابه ماته نیازمندکړی.

حضرت ابراهیم(علیه السّلام) به هرکله که دفقیراونیازمند صبر اوشکیبایی کمه ولیدله، نوویل به یی: لویه خدایه ددنیا دمال وسعت مونږته ارزانی کړه، ولی زمونږ زړه ورڅخه بیزاره کړه، اوپرهغی مو مه راغب کوه چی په طلب کی یی هلاک شو. لویه خدای په ټولو قضاو اوقدرونوکی دی خپل الطاف دمونږ دحال شامل وګرځوه.

**«ربنا آتنا فی الدنیا حسنه وفی الاخره حسنه وقنا عذاب النار».آمین**